۳

# په پخواني افغانستان کي بودايي او يوناني اثرونه

تر ميلاد دمخه د څلرم قرن په لومړۍ برخه کي د افغانستان پر سيمو د يوناني اسکندر يرغلونه جاري وو، او د دې ځای خلکو څلور کاله پر له پسې د يونانيانو د دغه نظامي اقتداره سره مقاومت کاوه، څو چي اسکندر په ۳۲۵ ق. م د دې خاوري له ختيځو سيمو څخه بېرته د بلوچستان پر خوا د پارس خاوري ته ولاړ، او په ۳۲۳ ق م په بابل کي مړ سو.

يونانيانو تر اسکندر وروسته په باختر کي يو لوی سلطنت جوړ کی چي تر ۱۰۰ ق، م پوري دوه نيم سوه کاله ۳۶ تنو شاهانو او يوې ملکې دلته حکومت کړيدئ. مګر دغو يونانيانو د افغانستان په سيمو کي د دې ځای د پخواني فرهنګ سره خپل مدني او فکري او معيشي مبادي ګډ کړل او دلته يې د هنر او فکر او مدنيت يوه ځانته بېله روبه و منځ ته راوسته، چي مؤرخان يې د "ګريکو باختر" په نامه يادوي.

په دغو وختو کي د افغانستان ختيځ پلو ته په هند کي چندراګوپتا، نومی شهزاده د مور يا د کورنۍ لوی سلطنت تاسيس کړئ و، چي دی په ۳۰۰ ق.م مړ سو، او کله چي په ۲۷۳ ق، م د ده لمسی اشوکا پادشاه سو نو دې لوی پادشاه ټول هند ونيوئ او غرباً يې د ارغنداو او هلمند تر څنډو پوري خپل اقتدار خپور کی.



د اشوکا جنګي او نظامي کارنامې د افغانستان په تاريخ کي څه اهميت نه لري، ولي چي د ده سياسي سلطه فقط څو کاله دلته وه، مګر کله چي اشوکا په ۲۶۰ ق،م رسماً بودايي دين ومانه نو دی د دغه دين يو جدی او تکړه مبلغ او خپروونکی سو، او د ده په هڅه د افغانستان په ختيځو سيمو کي تر کندهاره دا دين خپور سو، اشوکا چي به هر ځای ته رسېدئ هلته به يې پر، پرښو باندي خپل فرمانونه ليکل، او خلک به يې د بودا دين صلح کُل ته رابلل، او د وګړو او ژوو، د نه آزارولو ورمونه به يې پر ډبرو ليکل چي دا ليکني د اشوکا په نامه د پېښور په مردان او د ننګرهار په درونټه او د کندهار په زاړه ښار کي پيدا سوېدي.

تر اشوکا وروسته د ميلادی کلونو په دوهمه ميلادي پېړۍ کي د کوشانيانو لوی پادشاه کنيشکا هم د بودايي دين لوی مبلغ او خپروونکی و، او د دغو دوو تنو شاهانو په هڅه بوديزم په ټول ختيځ او شمالي افغانستان او ماوراء النهر او ان چين کي خپور سو.

تر ميلاد دمخه په پنځمه پېړۍ کي د جنوبي نيپال د کپې لاواستو د ښار د ساکيا ټبر په کشتريانو کي يو شهزاده پيدا سو چي دی يې ساکياموني يعني د ساکيا ټبر دانشمند باله، دی په ۵۶۵ ق.م کي زېږېدلی، او د عمر پر ۲۹ کال يې خپله شاهي کورنۍ پرېښوه او شپږ کاله يې ګوښه والي او رياضت وګاله، څو چي دی بده، يعني منور او روښان وګڼل سو، او خپل دين يې تبليغ کی، شاهان يې ورته راوبلل او د ټول هند خلک يې په خپل دين کي راکښې ايستل. څو چي د عمر پر ۸۰ کال په ۴۸۳ ق،م کال د هند په کوچنی نګر کي وفات سو.

د بودا دين کوم کتاب نه درلود، نو د ده د وفات په کال په باجا ګرهه، کي د ده پيروانو يوه لويه جرګه وکړه او درو تنو شاګردانو چي انانده،

يوپالي او كاسياپه نومېدل، د ده اقوال سره راټول كړل او يوه د قوانينو مجموعه يې د "تري پتيكه" په نامه وليكله يعنى د ګلو درې سودې. كله چې اشوكا د بودا دين ومانه او د هغه خپرولو ته يې ملا وتړله نو د دې دين دريېمه لويه جرګه د اشوكا په قيادت جوړه سوه، او داسي پرېکړه يې وكړه چې ليرې هيوادو ته بودايي مبلغان واستوي، او په دغو مبلغانو كي ځلور تنه هم ګندهارا د افغانستان شرقي سيمو ته راواستول سوه، چې د ۲۵۸ ق، م په شاوخوا كي دلته د بوديزم په خپرونه بوخت وو.

د موريانو سياسي اغېز د باختر يونانيانو وروشلاوه، او كله چې اشوكا په ۲۳۲ ق،م مړ سو، نو د ده كوم غښتلى جانشين پاته نه سو، او ايوتيديموس د باختر يوناني پادشاه تر هندوكش راواوښت او د موريانو موقت سياسي اقتدار يې په كابل او په ختيځ افغانستان كي ختم كې، مګر اشوكا چي كوم دين ورسره راوړى و، د هغه خورا دروند اغېز د افغانستان د خلكو په فكر او هنر او فرهنګ كي تر زرو كالو پوري ژوندى پاته سو. دمخه مو وويل چي پخپله بودا يوه منظبطه فلسفه نه وه راوړې، مګر وروسته د ده پيروانو د هغه دين الهيات سره راټول كړل، او دوه مذهبه يې تشكيل كړل، چي هر مذهب يې يانه باله او دغه كلمه اوس كټ مټ د يون، يانه په شكل د مذهب او رفتار په معنى په پښتو كي موجوده ده. د بودايانو لومړى مذهب مهايانه يعنى لوى مذهب و چي په شمالي هند او تبت او چين كي تر جاپانه خپور سو او ډېر تاويلونه پكښي وسول، چي د دغه مذهب پيروان په تبليغ كي زيار كاږي، او دوى وايي چي هر انسان د يوه كل جزو دئ، چي د هرمه يعنى قانون تر اثر لاندي ژوند كوي، نو كه څوك غواړي چي له شره نجات ومومي بايد چي له نورو څخه بېل نه سي، او په مجموعي جدوجهد كي شامل وي چي په



آخر كي د "بودى ستوه" مقام ته ورسيږي يعنى د ژوندانه دانشمندانه حال. چي د نورو انسانانو خدمت به كوي، نو د دې لوى مذهب پيروان د انسانانو لپاره دوه مرامه ټاكي يو د پوهي تحصيل دوهم د خلكو خدمت او پر نورو باندي لور كول. دوهم بودايي مذهب هينه يانه يعني كوچنى مذهب دئ چي پيروان يې په جنوبي هند كي وو او د دوى هر سړي خپله ځانګړې هڅه د كار بنسټ ګڼي، او كتابونه يې په پالي ژبه دي، حال دا چي د لوى مذهب ګرده كتابونه په سنسكريت ژبه دي، او تر اسلام دمخه چي كوم چيني زايران افغانستان ته راغلي وو، دوى وايي چي دلته په زرو بودايي معابد وو، چي د دواړو مذهبو پيروان پكښي كي وو.

بودا د خپل دين اساس پر اوو اصولو باندي ايښى وو :

(پاكه عقيده ـ پاكه اراده ـ پاكه خبره ـ پاك عمل ـ پاكه روزي ـ پاك زيار ـ پاكه توجه). ده ويل كه يو څوك دغه اوه توكي ولري، نو له نفساني قيدونو څخه خلاصيږي او بايد چي خپل فكر ته په داسي نقطه كي تمركز وركي، چي د خواهش له زنځيرونو څخه خلاص سي او بيا دغه ځلور پوړه طي كي :

۱. د رښتيا په پوهنه كي څېړنه.
۲. د حقايقو په پوهنه كي تفكر.
۳. ژور تفكرات او سكوت.
۴. بشپړ توازن او سكون چي نروانه يعنى فنا بلل كيږي.

موسيوفوشه فرانسوى محقق په افغانستان كي د بودايي دين د خپرېدلو علل داسي بيانوي : "د آريانا د شرقي خوا خلك چي تل به د پردو يرغلګرو تر پښو لاندي مرورل كېدل او د هخامنشي او اسكندر او موريا حملې پر تېري سوي وې نو دوى دغه بودايي دين له خپلي غوښتني سره

موافق وموند، ځکه چي دې دين روغه او مهرباني او ايثار ښوول او له خونړيزۍ او جنګه څخه بېزاره و، نو دهقانانو او کسب ګرو خلکو په ښه ډول قبول کړئ." د اشوکا په توجه دغه دين دوني خپور سو چي ۸۴ زره مزدکه يې جوړ کړي وو، او په ختيځ افغانستان کي چي اوس هم هره ګوښه مځکه کيني د بودا مجسمې پکښي پيدا کيږي.

کوشانيانو هم له دوهم ميلادي قرنه څخه بودائيت ښه پسي خپور کړئ، او کله چي په نهم هجري کال د چين يو بودايي زاير هيون تسنګ د افغانستان د بودايي معابدو د زيارت لپاره راغی نو دی په شمالي ولاياتو کي تر بلخه او په کابل زمين او غزني او پکتيا او ننګرهار کي تر سواته او ټکسيلا پوري وګرزېدئ او هر ځای يې د بيشمارو بودايي معبدو زيارت وکړ. د بودايي دين اثرونه د افغانستان د خلکو په دين کي د اسلام تر راتګه پوري پاته وو ، پر فکر، ادب ژبو او سياست باندي يې درنې اغيزي وکړې د بودا بتان او مجسمې په زرو ــ زرو جوړېدې او په معابدو کي به پرتې وې. دلته د هند د مجسمه سازۍ صنعت د مقامي اربابي هنره سره ګډ سو، او د يونان د هنر اثرونه هم د اسکندر سره دلته راغلي وو، او په باميان کي خنك بت او سرخ بت د دنيا خورا لوې مجسمې څني جوړي سوې، چي تر اوسه لا هم پر خپل ځای ولاړي دي، دې هنر ته پوهان د ګندهارا د هنر مدرسه يا د ګريکو بوديك باختري هنر وايي. او د هنر شناسانو په قول دلته د بودايي معبدونو او ستوپو طرز په خاص ډول دی چي دې دوداني هنر تر هندوستانه او کشميره هم خپل اثرونه کړي دي. کوم بودايي معبدونه چي هيون تسنګ په شمالي ولاياتو او باميان او کاپيسا او لغمان او ننګرهار او هده کي ليدلي وو، هغه ټول په ښکلو ودانيو او نقشونو او په طلا او ګڼهو مزين وو، له معبده سره په



سوو راهبان په غارو او حجرو کي ناست وو، د بودا هډونه، غاښونه، قدمونه، کالي، لکړي او نور آثار په دغو معبدو کي خوندي کېده، او په زرو زايرين به زيارت ته ورته راتلل. پاچهان د دغو معبدو متوليان او ساتونکي وو او ډېر ثروتونه، ګڼې، مالونه، طلاوي، قيمتي غمي، په دغو مزدکو کي پراته وو. ځکه چي د بودا بتان خورا ښکلي، د بودايي او يوناني هنرمندانو د هنر په مرسته دلته جوړېدل، نو د مجسمې لپاره د پودهٔ له نامه څخه زموږ په ژبو او ادب کي "بت" کلمه جوړه سوه چي په عربي کي بد او جمع يې بدده راتله. د ګندهارا ښکلي بتان دوني مشهور سول، چي په اسلامي دوره کي به د دې سيمي شاهانو د تحفې په ډول د بغداد د خلفاوو دربارو ته هم استول. دګندهارا صنعتي مدرسې دوني ښکلي بتان جوړول چي وروسته هم دغه اصطلاح په دري ادب کي پاته وه، او د دري ژبي شاعرانو هر ښکلی محبوب "بت قندهاری يا نګاری قندهاری يا لعبت قندهاری" باله. مثلاً فرخي وايي :

نګار قندهاری قند لب نيست
تو قندين لب نــــګار قندهاری

که يو وخت د افغانستان د هنر او ودانۍ او فکر تاريخ ليکل کيږي نو د بودايي دين او هنر اثرونه دوني ډېر دي چي غونډ ــ غونډ کتابونه بايد د هغه په تشريح کي وليکل سي او موږ اوس د هډې او د غزني د تپه سردار او لوګر د موسهی په ګل دره او کاپيسا او باميان او خيرخانه او د کابل او پېښور او لاهور په موزيمو کي د ګندهارا د ښکلي هنر ګرانبها آثار ليدلای سوای. (۱)

(۱) ورمه مجله، ۱۳۵۰ ل کال، ۵ ــ ۶ ګڼه، ۱ ــ ۶ مخونه.